فهیم بحیر ۲۰۱۰/۱۰/۲۲م

# د روانو خونړیو ستونزو جرړې

د اکتوبر اوومه د افغانستان په تاریخ کې یو توره روځ ده. په دې روځ (کال۲۰۰۱) امریکایي پوځونو په افغانستان یرغل وکړ او د یوې نیمې میاشتې په ترڅ کې یې د طالبانو واکمني نسکوره کړه. امریکایانو په هغه وخت کې غوښتل چې له القاعده څخه د هغه یرغل کسات واخلي چې د سپتمبر په ۱۱ د امریکا د متحده ایالاتو د اقتصادي او پوځي غرور په دوو مرکزونو شوی و. په هغه برید کې د نیویارك په زړه کې د نړیوالې سوداګرۍ غبرګ برجونه ونړېدل، پنتاګون ته درانده زیانونه واوښتل او له بده مرغه چې ۳۰۰۰ انسانان پکې ووژل شول.
د امریکا د متحده ایالاتو چارواکو هغه وخت فکر کاوه چې د افغانستان طالبانو، القاعده ته دا وخت او ځای ورکړی و چې په امریکا باندې د دې خونړیو بریدونو تابیا وکړي.
په هر صورت امریکا په افغانستان پوځي یرغل وکړ، طالبان یې مات کړل او د افغانستان د چارو د سمون له پاره یې د (بن) غونډه جوړه کړه. په دې غونډه کې د امریکا د متحده ایالاتو د چارواکو نظریات د ښاغلي زلمي خلیلزاد په واسطه رسول کېدل.
غونډې ته له ۶۵۰۰۰۰ کیلومتره مربع افغانستان او ۲۵ ملیونه افغانانو څخه د څلورو ډلو څو- څوکسان وربلل شوي وو.
۱- د قبرس ډله چې د ګوتو په شمېر کسان یې درلودل او د افغانستان په سیاسي معادلاتو کې یې د ایران د احتمالي ونډې له پاره په قبرس کې غونډې کولې.
۲- د پېښور ډله چې ډېر کسان یې د پیر ګیلاني د تنظیم خلك وو او په هیڅ توګه یې په پاکستان کې د ټولو افغان مجاهدینو او په لکونو مهاجرینو استازیتوب نه شوای کولای.
۳- په اروپا او امریکا کې د پخواني پاچا اعلیحضرت محمد ظاهر شاه پلویان چې د روم د ډلې په نامه یادېدل. د دې ډلې ډېر کسان ۲۰-۳۰ کاله بهر پاتې شوي او د افغانستان د خلکو ستونزې یې نه په رښتیاني مانا نه شوای احساسولای. لکه چې وروسته ولیدل شول، د دې ډلې ځنې کسان یوازې د دې له پاره کابل ته راغلي وو چې خپل جایدادونه په ملیونونو ډالره وپلوري او بېرته لاړ شي.
٤- شمالي ټلواله (شورای نظار، جمعیت اسلامي، جنبش اسلامي، وحدت اسلامي ، حرکت اسلامي) او کېدای شي ځنې نورې وسله والې ډلې.
کله چې امریکایانو په افغانسان یرغل وکړ، د شمالي ټلوالې مشرانو او قوماندانانو پیسې واخستې او د امریکا د زمکني پوځ په توګه یې په جګړه کې برخه واخیسته!
د (بن) غونډې پرېکړه کړې وه چې هېڅ پوځي ځواك به کابل ته نه ننوزي؛ خو کله چې طالبان لاړل، دوی په کابل ننوتل، له (کولاب) او (خواجه بهاوالدین) څخه یې خپل (دولت اسلامي افغانستان) بېرته کابل ته راووړ او له رهبره تر عسکره ټول دولتي بستونه یې ډك کړل.
د (بن) د پرېکړو له مخې د افغانستان موقته اداره جوړه شوه چې مشر یې ښاغلی حامد کرزی و؛ خو واك عملاً د شمالي ټلوالې، جمعیت اسلامي او نظار شورې په لاس کې و. نظار شوری او جمعیت د موقتې ادارې څوکۍ داسې ووېشلې چې خپل ائتلافیون یې هم خپه نه کړل؛ خو هغه د چا خبره (اصلي او کلیدي) وزارتونه او منصبونه یې ټول ځان ته ونېول او څو کسان یې د یوې ولسوالۍ خلك وو!
خیر کله چې امریکایان او ملاتړي ( ناتووال) یې افغانستان ته راغلل د بریالیتوب له پاره یې درې خبرې درلودې:
۱- د افغانستان خلك له راز- راز جګړو څخه ستومانه شوي وو او هېله یې در لوده چې په سوله کې د خپل کور- کلي د بیا جوړولو له پاره متې بډ وهي.
په افغانستان د شوروي پوځونو لس کلن خونړي یرغل، د جنګي تنظیمونو خپلمنځي جګړو، له مخالفینو سره د طالبانو اوږدو جګړو، د پردیو په لمسون کورنیو جګړو، فقر، لوږې، مهاجرتونو او راز – راز کړاوونو د افغانستان خلك ډېر بېوزلي او ستومانه کړي وو او هېله یې درلوده چې د ټوپك په ځای بېل او کلنګ را واخلي او خپل وران هېواد بېرته ودان کړي.
۲- د امریکا او ناتو هیبت ډېر زیات و. امریکا د سړې جګړې د پای او د شوروي اتحاد او سوسیالیستي کمپ د نړېدو له امله د نړۍ په یوازنی زبرځواك یا ستر ځواك بدل شوی او د نړۍ د خوړلو اشتها یې درلوده.
۳- امریکا چې کوم شعارونه راوړي وو، ډېر په زړه پورې او ښکلي وو: د جګړې پای، سوله، امنیت، وروررولي، په محاکمو کې عدالت، انصاف، ولسواکي، اساسي قانون، د قانون حاکمیت، انتقالي عدالت، د ولسمشرۍ ټاکنې، د ملې شورۍ ټاکنې، ازاد مطبوعات، د ازاد بازار اقتصاد او ...


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

په هر صورت امریکا او ناتو د دې سترو انساني پلانونو دعملي کولو له پاره موقته اداره جوړه کړه. دغه اداره په دولتي مناصبو او امکاناتو باندې د (چور) د تګلارې په اساس جوړه شوې وه او په هېڅ توګه یې د داسې افغانستان د اداره کولو وس نه درلود چې تېرو ۲۱ کلنو جګړو ټوکر- ټوکر کړی و او په هېواد کې د پردیو د استخباراتو اجنټان په سرو سترګو ګرځېدل.

که دلته یو مثال راوړو بده به نه وي. په افغانستان کې د موقتې، انتقالي او بیا انتخابي حکومتونو په ډېرو میاشتو او کلونو کې د ننګرهار غونډې مهم ولایت نیمایي چارواکي بېسواده او کم سواده کسان وو! د یوویشتمې پېړۍ د مخابراتو او مخابراتي تکنالوژي د انقلابي کلونو په پیل کې د ننګرهار د مخابراتو رییس بېسواده و او (تفداني) یې په (کمپیوټر) بنه بلله!

په افغانستان کې د کمزوره دولت جوړېدل، د خلکو سترې هیلې په اوبو لاهو کړې. انتقالي عدالت عملي نه شو او جنګي مجرمینو د خپل برائت سند په خپل لاس جوړ او لاسلیك کړ. دولتي منصبونه د ضوابطو په ځای د روابطو پر بنسټ وویشل شول، په هېواد کې د حساب ورکولو کلتور په صفر ضرب شو او ځینو خولا فکر کاوه چې د ټول افغانستان د مالکیت قباله یې ګټلې ده. قوانین جوړ شول؛ خوعملي نه! ډېرو کسانو ځانونه او خپل خپلوان له قانونه پاس ګڼل او قانون ته یې د توتو ارزښت نه ورکاوه، په دولتي امکاناتو چور ګډ شو، لوی-لوی قراردادونه د چارواکو په پچه وختل، د حلالو او حرامو توپیر له منځه لاړ، په تقوی او قناعت سرې کربښې وکاږل شوې او د ډېرو پیسو ګټل په اساسي قانون بدل شول.

ملیونونه جریبه یا هکتاره دولتي زمکه غضب شوه، د پارکونو په زمکه غیر قانوني ودانۍ جوړې شوې، څلور- څلور بنځې ضرور وګڼل شوې او چارواکي لاړل د سروزرو، سپینو زرو، بنګلو، بانکونو، ښارګوټو، امنیتي کمپنیو، قراردادونو او ډالرو په هوس کې داسې ډوب شول چې خپل جهادي یا اروپایي ارمانونه یې تر پښو لاندې کړل او د دولت او ولس تر مینځ یې د بېلتون او کرکې داسې واټن رامینځ ته کړ چې اوس یې نړۍ په ډېر ځواك او لګښت نه شي کمولای.

دې واټن او کرکې ناراضي ځوانانو، طالبانو او د افغانستان د دولت او په افغانستان کې د بهرنیو د حضور رنګارنګ لیرو او نژدې مخالفینو ته دا موقع په لاس ورکړه چې ټوپك واخلي او خپل پټ مخالفت په مخامخ مخالفت او جګړه بدل کاندي. په دې توګه وینو چې په تېرو لسو کلونو کې په افغانستان کې د جګړې له پاره یو نوی نسل راپورته شو چې سربښندنه یې هیڅ حد نه پېژني او نړۍ یې اریانه کړې ده.

بل لور ته ځنې هغه شعارونه چې امریکا له ځانه سره راوړي وو، غلط، دروغ او غیر عملي ثابت شول. په ټاکنو کې پرله پسې درغلیو د ولسواکي بنکلی مخ تور کړ. اجتماعي عدالت هېر شو، د ازاد بازار د اقتصاد په لوبه کې ( ډېر پکې خانان شول، د چا لاړې ارتینې پکې) یو څو کسان ملیونران شول؛ خو د افغانستان عام خلك د پولۍ ټك ته کېناستل. د ښځو د حقونو له پاره ډېر تبلیغات وشول، د داسې عنعنوي هېواد په پارلمان کې د ښځو له پاره ۲۵% سیټونه بېل شول چې عام ولس لا د داسې پرمختګ له پاره فکري اماده ګي نه لري، ازاد مطبوعات جوړ شول؛ خو ډېر یې د امریکا او ایران په پیسو چې د ملي تفرق له پاره کار کوي اوهېواد له نویو_ نویو ستونزو سره مخامخ کوي.
د امریکا یي شعارونو نه عملي کېدلو خلك نور هم له دولته لیرې او د ولسواکي د سالم تطبیق په پروسه بې باوره کړل او داسې فکر پیدا شو چې امریکا ولسواکي د ولسواکۍ د مخالفینو او دښمنانو په لاس جوړوي او ښکاره خبره ده چې کوږ بار تر منزله نه رسیږي!

په هرصورت د کمزوره حکومت کارونو حتی هغه پرمختګونه هم تر سیوري لاندې راوستل چې په دې تېرو کلونو کې په افغانستان کې شوي وو او مثبت بلل کېدل.

د حکومت کمزورتیا، بیساري اداري فساد، بې امنیتي او د امریکایي شعارونو نه عملي کېدلو، جګړه زیاته کړه او د وسله والو مخالفینو صفونه پیاوړي شول. د دې مخالفینو د ګوریلایي جګړو له امله د امریکا او ناتو سترو- سترو نومونو ته زیان ورسید، د هیبت دنګه مانۍ یې زیانمنه شوه او نور نو نه ماتېدونکي ځواکونه نه بلل کیږي او په افغانستان کې د ننه او بهر داسې فکرونه پیدا شوي دي چې امریکا او ناتو په افغانستان کې د بریالیتوب چانس نه لري او د وتلو له پاره پلمې لټوي.

په داسې شرایطو کې له ډېره وخته راهیسې د سولې په اړه خبرې کیږي. ښکاري چې د افغانستان دولت له جګړې ستومانه شوی دی. دولت غواړي چې هېواد ارامه شي او د اقتصادي پروژو د عملي کولو وخت وړومي چې عواید یې د سباني او بې له بهرنیانو افغانستان لګښتونه پوره کړای شي. امریکا او ناتو هم غواړي چې له منځلارو طالبانو سره روغه وکړي او ځان ته د اوړو یوه پزه جوړه کړي. بل لور ته طالبان که څه هم چې د سولې په اړه به زغرده څه نه وایي؛خو د سولې عالي شورۍ یې رد نه کړه او کېدای شي چې د نورو مخالفینو په ګډون د سولې په اړه یو ډول تمایل وښیي.

د سولې له پاره سیمه ایزه مینه هم پیاوړې ښکاري؛ ځکه د افغانستان د جګړې اغیز ورو- ورو له پولو څخه وځي او په سیمه کې لمن غوړوي. د پاکستان ډېرې سیمې ناکراره دي. د پاکستان ستر حریف هندوستان د امن احساس نه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه:** دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کوي، په ایران کې چاودنې او یرغمل نیونې پیل شوې او کېدای شي چې دا ناکراري نورې هم زیاتې شي او د تاجکستان په (رشت) کې دوه- درې جګړې وشوې او تر پنځوسو زیات دولتي سرتیري پکې ووژل شول.
کېدای شي چې دا عوامل د ګاونډیو هېوادونو مشران هم دې ته اړ باسي چې د هغه هڅو ملا تړ وکړي چې په افغانستان کې د سولې له پاره پیل شوی او راتلونکی یې لا تیاره ښکاري.
د افغانستان جګړه کورني عوامل لري. خلك له دولته خپه دي، په واك کې ټولنیز عدالت نشته، د هېواد یو شمېر فکري بهیرونه له واك څخه بهر پاتې دي، اقتصادي پرمختګ سست دی، خلك دولت په خپل زړه او کور کې نه ویني. د بهرنیو پوځونو خپلسري عملیات او ملکي تلفات خلك هره روځ له دولته لیرې کوي؛ خو دا جګړه لا له دې هم ژورې ریښې لري. د دولت د مخالفینو فکر چې په سلګونه کاله یې له ښارونو او تمدن څخه لیرې په کوچیاني بڼه یا په کلیوالو سیمو کې ژوند کړی او له مکتب، روغتون، لوړو زده کړو، پوهنتون، سړك، سوداګري، رادیو، ټلویزیون، اخبار، تمدن او مدنیت څخه لیرې پاتې شوي، تر ډېره وخته پورې د نوي ژوند، مدرنیتې او د ژور ټولنیز بدلون په وړاندې خنډ جوړېدی شي. له روسانو او خلقي- پرچمي غورځنګ سره مخالفت هم په همدې فکري ظرفیت کې وده وکړه او شوروي اتحاد یې دړې وړې کړ.
چې خبره سپینه کړو طالباني فکر د افغانستان په ډېرو سیمو او په ځانګړي توګه په جنوبي او ختیځو سیمو کې پلویان لري او په حقیقت کې د رواني جګړې ظرفیت په همدې ولس کې پروت دی. دا ولس باید په دې ګناه ونه وژلی شي، بلکه له دوی سره مرسته وشي چې پرمختګ او بدلون ته چمتو او د نوي ژوند جوګه شي.
دا خبره مو ځکه وکړه چې د سولې عالي شورى باید دې ټکي ته متوجه اوسي. بله خبره دا ده چې د افغانستان خلك په خپلو سیمو او هېواد کې بهرني پوځونه نه شي زغملای. له پردیو سره د افغانستان د خلکو تاریخي مخالفت د دولت اوسني وسله وال اپوزیشن ته قوت ورکوي او دوی نورو جګړو ته هڅوي. په کار ده چې دا پوځونه په افغانستان کې قانوني شي او د پاتې کېدلو یا وتلو له پاره یوه ملي اجماع مینځ ته راشي.
د افغانستان په دولت کې ډېر کسان نه مسلکي دي، نه متخصص، نه متعهد او د زور او مصلحتونو له مخې په کار ګومارل شوي دي. ځنې دا کسان دا لس کاله د دې ولس په اوږو سپاره ګرځي.ځینو دغه ښاغلو له طالبانو او حزب اسلامي سره اوږدې جګړې کړي او سولې ته ډېر لیواله نه ښکاري. دا خلك په همدې جګړه کې چاغ شوي او په جګړو کې پیسې ګټي.دا عوامل بهرنیانو ته موقع په لاس ورکوي چې د دولت مخالفینو ته وسلې او پیسې ورکړي او جګړو ته یې هڅوي.
چې خبره لنډه کړو د سولې د شورى په مخکې درنه دنده پرته ده. شورى دې دولت ته ووایي چې مطروحه شرایط یې ډېر درانه دي. مخالفین د ولسواك نظام ټول ارزښتونه، اساسي قانون او بهرني پوځونه نه مني؛ خو داسې ارزښتونه شته چې دواړه خواووې خبرو ته وهڅوي. اسلام، افغانستان، ګډ تاریخ، ګډه جغرافیه، ګډ ملي دودونه، ګډ تاریخي ویاړونه، ګډ اتلان، د ماشومانو ګډ سرنوشت او نور داسې ارزښتونه شته چې دواړو خواوو ته د درناوي وړ دي او کېدای شي چې د خبرو له پاره ښه زمینه برابره کړي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ